عبدالاحد سرتیپ 2017 /7 /18

# تاریخی پټ پټانی
# (د کندهارنا لیکل سوی تاریخی کیسی)
**( دریمه برخه)**

**دسقویانوسره جهاد دقاضی ملا عبدالسلام په خاطراتو کی:**

هغه برخه چې په کندهارکی دسقاویانوپرضد پاڅون کی په لنډيو ،متلو ، کاکړی غاړو ، تاریخی کیسو اودپخوانیوسپین ږیرو له خولی لاسته راغلی وی ترلږ حده راټولی کړی، خواوس راځوهغه برخی ته چې دکوړک دیوه وتلی قومی مشر، دینی عالم ، قاضی اووتلی شاعرپه کتابوکی ترلاسه کیدای سی مخه وکړو اوولټوچې دکوړک په جکوڅوکوکی دغازی امان الله خان دداسی یوه مین شعرونه ، خاطری اولیکنی ولی دتاریخ دپانو پاته شوی دی پداسی حال کې مابه کله ناکله دهغه دمشرزوی اخندزاده شمس طالع اڅکزی سره دچمن په ښارکي خواله کاوه اویابه مي په ځینو مشاعروکی لیدی دمرحوم قاضی عبدالسلام بابا په هکله ورڅخه مالومات ترلاسه کاوه اویاهم کوړک دغره لمنودواړوغاړوکی دشاعرانواویامشرانو څخه پوښتنه کوله.

قاضی ملاعبدالسلام بابا نه یوازی دقلم دخاوندانوپه زړوکی ځآی درلودئ بلکه دعام ولس حتی داسی مشرانواوکورنیوکی چې هغوی یووخت دانګریزانواویا اوس دانګریزانوپه میراث پاته پاکستانی دولت کی ډیرځواکمن خلک وه ورسره مینه درلوده اودده کورنی اوس دشعراوشاعری سره ښه علاقه لری اوشعرلیکی نوپدی لحاظ مرحوم قاضی صاحب په حقیقت کی دکوړک دلمنواڅکزو معنوی پلاربلل کیږی ، ځکه دهغه پخی خبری اوخاطری اوشعرونه لکه د رحمان بابا په شان په ځینومجلسوکی ویل کیدي اوخلکوخاص عقیده ورته درلوده ، زماپه خیال دافغانستان داستقلال دجګړې پروخت ترده فعال پرافغانستان ،آزادی ، پرغازی امان الله خان اودهغه پرمیړانه مین ملا اولیکوال به هلته نه وی اوسیدلی. نومړی دسقاویانوپرضد ډیراشعارویلی اودهغوی شورش یی بغاوت ګڼلی دی اوپرضد یی د جهاد فتوا ورکړیده، په یوه شعرکي ده څلوېښت حدیثونه یادکړیدی چې دسقاویانوپرضد اودغازی امان الله خان په ګټه یی استعمال کړیدی ، زه نه پوهیږم چې ولی دتاریخ لیکونکو اولیکوالانو له قلمه لیری پاته سویدی ؟ زما په خیال کیدای سی چې دانګریزانوترماتی وروسته هم دهغه لاس پوڅودولتونو اوشخصیتونو دداسی کره اسناد په پټ ساتلوکی فعاله ونده درلودلی وی. د روسانواوروس پلوی دولت سره دجهاد دشروع څخه روساتو تروتلوپوری د مرحوم قاضی ملاعبدالسلام اخند کورنی دپاکستان ددولت له پامه غورځول سوی وه په داسی حال کی چې هم دکوړک شاوخوا قوم کی یی په یوه لویه څانګه اړه لرله اوهم دهغه سیمی لومړنی شاعره اوفرهنګی کورنئ وه اوهم یی دانګریزانوسره ډغری وهلی وی . څوواره بندی سوی و کتابونه یی مصادره سویوه .

دلته غواړم دده دکتاب (سوسن چمن ) په اشعاروکی یوه ځغلنده کتنه اویادونه وکړم چې هغه دخپلی دوری دناخوالواوآزادئ غوښتونکو اوانګریزانوپه هکله څه ویلی دی؟ یوه ډیره مهمه او دیاد ولو وړه خبره داده چې دده دسوسن چمن په اشعاروکی چې په ۳۲۷پاڼوکی لیکل سویدی په اکثریت حتی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

په ۹۵سلنه اشعاروکی دغازی امان الله خان او یا دهغه دملګرو اودهغه دمیرانی یادونه سویده اوهم دسقاوی شورش غندنه سویده .

دقاضی ملاعبدالسلام بابا داشعری ټولګه په ډیروپخوانیوکلیوالواومحلی الفاظواودبیاتوښکلی سویده ، په دې ټولګه کې دده ټوله شعرونه دغازی امان الله خان په ملاتړ سقاویانو په خاص ډول دشوربازار دحضرت صاحب اوپه کندهار کی دسقاویانوپه ضد دپاڅون کونکو په هکله یادونی سویدی. قاضی ملاعبدالسلام بابا اڅکزی داڅکزو دعشیزوپه څانګه پوری اړه لری، دکوړک دغره په څوکه دښاخه پنامه کلی کی اوسیدی. نومړی دانګریزانو او بیا دسقاویانو په هکله هغه څه لیکلی دی چې دنوروشاعرانو په لیکنوکی به په دومره پراخه پیمانه نه وی اویا به مانه وی لیدلی ، ملاسلام بابا دخپل وخت ډیرلوی قاضی و ، دسوسن چمن پرلومړنی مخپانه لیکلی دی :

**فرنګی سوسن چمن په اورکی واچاو　　　　پــــرما　هــم د ابــراهیم مصبت راغی**
**پرغازی امـــــان الله عـــبدالـــسلامه　　　　کــتاب نـــه دی کښــلی بل شاعربی تا**




هغه بل کتاب دطلب مذهب پنامه لیکلی دی چې اکثریت احکام دشریعت خصوصا لمونځ، روژه، زکات حج اوځنی نورحکمونه یی په شعرلیکلی دی. دده په باره کې دغازی امان الله خان په ضد دانګریزانو توطئی اومخالفت ډیرپه ښکاره ټکویاد کړیدی اوده دغازی امان الله خان پرضد بغاوت یو غیرشرعی کاربللی دی، ډیروخت ورسته چې ما ته دا کتاب لاس ته راغلی .کله چې می خلاص کړی دځان سره می هوډوکړی چې پرهرشعردی لومړی سترګی ولګیدې دهغه پانې شعرونه به ددی لیکنی

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پرلومړی سرکی لیکی   چې پاڼی می راوړاولی . داشعرمخ ته راغلی :

دیارلس سوه کړواته څلویښت حساب ما    مسمی سوسن چمن وکیښ کتاب ما
پښتانه م کوراویښ وفرنګی ته    خوړی وینی دکابل دانقلاب ما
دروند کاهښت راباندی واوښت لکه منځه    لادراوسه هغه ویرنه کی کریاب ما
دسقاوکډه موهم برزخ له وکړه    زخمی زړه ځګیروی درلودفکرخراب ما
بغاوت پرشریعت وژړولم    دغازی لوی مجاهد واهی رباب ما
اشارات دلیل ایات نصحیت زیات و    څلویښت وه یاستوحدیث د ده په با ب ما
چې حضرت حکم غلط مانۍ په خلکو    په صحی برهان لیکلی دی جواب ما
غوړیدلی ګل ترسا فرنګی وینو    په بند ولاړم غوځی واخستی عذاب ما
بیا می بل طلب مذهب کتاب راویوست    څنګه راوی غرض لاندی درحجاب ما
په ګڼ خوپ کی بل سوځراغ لکه دژرندی    شریکان کو پکمک اولی الالباب ما
څلورسوه دولس مخه هزارجزه    دمطبع سه وغوښت دا قدرنصاب ما
انګریزی حکومت یی منع اشاعت کی    په غلاچاپ سو څه د ده پریښواو طناب ما
پرعادت زاړه همغسی وئیدمه    وړانده مخلوق ته ښود عالیجناب ما
لارپه نورعلم وهلای سم درکوره    قدم سم ایښود په صرف په اعراب ما
د منطق و د حکمت خوند می لاوکوت    ځان اله کې په خطا وپه صواب ما
عاقبت غدار کفار د هنده بارسو    آزادی غوښته قران مخ پرمحراب ما
درایتا واوښتمه یا پروردګاره    عمربایلو ونوبهارعهد شبا ب ما
ماښام لاندی کی عبدالسلام ناکامه    پرښره عبث کرل دینی اداب ما

په بل شعرکی داسی وایی :

سقاو څونی امت ګډ کی په سقردا    د حضرته سه ولاړسوشورو شردا
مدبراعظم اسلام کی خود مختاره    دغزا ترساته ووت شاه ظفر دا
دلندنه سه شپیلکې راځی دننه    جاسوسان موکونه وینم سیم وزر دا
انسانی تصویربیه نوره عکس ووت    زه مردسامری ګنم سخوندر دا
پښتانه په سرداری د ده شرمیږو    په ارګ ننوت په پلارپه نیکه خر دا
ملایانوهم پرده خطبه ویله    پرتخت کښیناستی پنځه میاشتی قدردا
عفریت چیری توان درلووسلیمان ته    فرنګیانو درولی و ممبرته
رشوتونه تله له هنده و کابل ته    ده ماړه کوهرخریلی و ببر دا
دیارلس غوټی وی اته څلویښت سربیره    چی ور واچاوی و خلکوته آرز دا
فافتلواهم پر بیرغ کښلی درواځی    قران ونه و مخ ته برابر دا
منافق دی سپی شامه خروړی وخوری    وژنه مار ثواب لری حج اکبر دا
که روپی یووه صوفی وینی را وزی    غدار ودری د مخه پسرور دا
په نفاق ډک سو اسواق اوافاق ټوله    ځه عبدالسلامه پریږده ښاخه غر دا

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

یادونه : په دی اشعاروکی چې په قلم لیکلی سویدی ویل یی څه ګران دی اوځنی لغتونه لکه منځه یا موک اوداسی نور :

الف : منځه : هغه تپې ته ویل کیږي چې تر غره کوچنی او تر وړې غونډۍ لویه وي ، منځه لوی ډبرې ته هم وایي او په ځینو سیمو کې لرګي ته هم وایي .

ب : موک : رشوت ته وایي . او جمع یې موکونه چې رشوتونو ته وایې .

نور بیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ